مطبوعاتي اعلاميه
د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون
د ۱۳۸۸ د سلواغي ۱۰

د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون د افغانستان د اسلامي جمهوری دولت او د نړیوالي ټولنې د هڅو څخه د سولي د تامین ، امنیت ، ښې حکومتدارۍ ، د فساد پر وړاندی مبارزه د ښښني د فرهنګ او دود له منځه وړل ، اقتصادي او ټولنیزه پراختیا، او د سیمه ایزو همکاریو وده چې د لندن په کنفرانس کې مطرح شوه ملاتړ کوي .
د افغانستان د بشري حقونوخپلواک کمیسیون بشپړ باور لري چې د خبرو اترو استراتیژیکه طرحه به د دولت له مخالفینو سره د سولي او ثبات د رامنځ ته کیدو په موخه هغه مهال عملي شي چې پر لاندنی اصولو استواره وي :
١ ۰ د بشري حقونو، عدالت او دادخواهی پر ارزښتونو ټینګار
٢ ۰ په استراتیژۍ کې د مطرح شویو علمي میکانیزمونواو بهیر مشروعیت او روڼوالي .
٣ ۰ د خلکو پر ګډون او برخه اخیستني ټینګارد بهیرد تطبیق او طرحي په مختلفو پړاونو ځارنه .
د تیرو کلنو تجربی په هیواد کې د دي حقیقت څرګندویی کوي تر هغه مهاله چې د دولتونو اقدامونه د بشري حقونو د ارزښتونو د باورمندۍ پر بنسټ او د حق غوښتنې او عدالت پر تامین استوار نه وي ،او له بله پلوه خلک په بهیر کې فعاله ونډه او ګډون ونه لري د هر پروګرام او اقدام مشروعیت او روڼوالی به تر پوښتني لاندې راځي او د هري هڅي پایلي چې د یاد شویو اصولو پر بنسټ نه وي بی ګټې دي .
د افغانستان د بشري حقونوخپلواک کمیسیون باور لري چې د افغانستان د دولت وروستي اقدامات او نړیواله ټولنه د افغانستان د خلکو د پراخ ګډون پر بنسټ د علمي روڼ میکانیزم د طرحي په برخه کې داسی استوار وي چې د بشري حقونو په لار کې د هیواد د اساسي قانون د لاسته راوړنو ، د ښځو حقونه، د رسنیواو بیان د خپلواکې ، او د مدنی ټولني د اورګانونو له کړنوملاتړاو دفاع وشي د عدالت له ارزښتونو رعایت، ملاتړ، د ښښنې د فرهنګ له منځه وړل، د کاري پروګرامونو په لومړیتوبونو کې ځاي ولري .